# LIDA Stories

lidastories.net

## ناروې ته راتګ


Aamiina
Julie Cornelia van Walsum
Shir Ahmad Laiwal



This work is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0


# ناروې ته راتګ


Aamiina
Julie Cornelia van Walsum
Shir Ahmad Laiwal


5

پښتو ps

زه او زما دوه ورونه د ۲۰۱۶ کال په دیسمبر کي ناروې ته راغلو. موږ د دوبی کالي اغوستی وه ځکه چی موږ فکر کوي چی هلته به هم هغسي ګرمي وي څنګه چی په سومالیا کي وه. لیکن کله چی موږ هوایی میدان ته راورسیدو، واوره اوریدل. زموږ یخ کېده او هوا ښایسته وه. که څه هم موږ لږ بستي راوړي وي د کالو ده په کوم کی چی موږ یوازي د دوبی کالي لرل.

اګر که یخ هم وو، زه ډیر خوشحاله وم کله چی مونږ
ناروې ته راغلو. بالاخره ما د خپلي مور سره ولیدل
څوک کی ما د شپږو کالو راهیسي نه وه لیدلي. زما
مور او دهغي دوو ملګرو زموږ سره ولیدل. کله چی
موږ دا ولیدل، موږ د خوشخالیه وژړل. موږ زما د مور
دي کوچنی کلي ته په موټر کي ولاړو.

زما د مور په کلي کې هغه اولي ورځې توپير لرونکي وي. هوا يخه او واورينه وه او د ليدلو لپاره ډير څه نه وه. کوڅي مکملې خالي وې. هغه څو کسان چې ما ور سره وليدل بی ميني او نامهربان معلوميدل. په سوماليا کی به هر طرف ته خلک وه، نو دلته هر څه نا اشنا وه. زما مور او د دي ملګرو و مورږ ته تحفې راکړې، او وروسته دي مورږ د ژمي د کالو رانيولو لپاره بوتلو.



که زه په سوماليا کی پاتې شوي وايی، زه فکر کوم چی اوس به زه يوه مور وايی. شايد ما اوس زيات کوچنيان درلودای. که زه په سوماليا کي وايی، ما به دغسي فرصتونه نه درلودای لکه اوس چی يی لرم. زه د ډيرې خوشبختی احساس کوم چی په ناروې کي اوسيږم.

د کریسمیس د روخصتیو وروسته ما د ځوانانو د تعلیم په مرکز کي په یو کورس کي ګډون وکړي. د یو عادي مکتب د شروع کولو مخکښې ما هلته دوه کاله درس وویلی. اوس زه په وروستي کال کي یم، او ما زیات نوي ملګري پیداکړي دي. زه ډیر ټولنیز یم او زما خوښیږي چی د نورو خلکو سره ووینم.



راتلونکي کال به زه ثانوي مکتب د ځوانانو او صحت د پرمختګ په برخه کي شروع کړم. ما اینده کي زه غواړم د ځوانانو او پیغلانو په بخش کي کار وکړم. کله چی تعلیم ختم کړم، زه دا هیله لرم چی دایمي وظیفه پیداکړم. زه همدا شان غواړم چی د موټر چلولو زده کړم او لایسنس تر لاسه کړم.

د مکتب وروسته زه یوه کورس ته ځم چیری چی ځینی رضا کاران زما سره د کورنۍ کار په کولو کي مرسته کوي. ما په هغه سینتر کي د ګنډلو یو کورس هم شروع کړي دې.



په سومالیا کي زه هیڅ کله مکتب ته نه وم تللي او یا هیڅ وخت مي په کورسونو کي ګډون نه وو کړې د قران د کورسونو څخه بغیر. زه په لیکلو او لوستلو نه پوهیدم. اوس ما زده کړي دي چی څنګه په سومالي او ناروي ژبو لیکنه وکړم، او نور مضامین مي هم زده کړي دي. د تعلیم څخه بغیر، ما دغسي احساس کوی چی زه هیڅوک نه یم. اوس زه د پوهي او خوشحالي احساس کوم.